د وسلو ټولولو او بیا میشته کولو کمیسیو
ګډه دارالانشآ

کمیسون جمع آوری سلاح و استقرار مجدد
دارالانشای مشترک

**Disarmament and Reintegration Commission**
**Joint Secretariat**

**مطبوعاتي اعلامیه**

---

**د ډایاک کنفرانس، ګډون کوونکي د دولت د رئیس مرستیال او د هیواد د ولایتونو والیان**

**کابل د ۱۳۸۶ کال د غویی د میاشتي ۱۸ مه نیټه**

د چهار شنبه په ورځ د روان کال غویی د میاشتي په ۱۹ نیټه جلالتمآب احمد کریم خلیلي د دولت د رئیس مرستیال د ډیاګ په دویم کنفرانس کی د افغانستان د ولایتونو ۹ تنو والیانو ته د ډایاګ د تطبیق په هکله د ولسوالۍ په کچه معلومات ورکوی.

په دغه کنفرانس کي د کورنیو چارو وزیر او د کار او ټولنیزو چارو، د اطلاعاتو او فرهنګ او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارتونو معینان، د ملي امنیت رئیس، د ملي امنیت سلاکار او د نړیوالي ټولنې غړی به ګډون وکړی.

د ډایاک د راتلونکي کمپاین د چمتوالي لپاره، ۱۹ ولسوالیو د پخوا څخه د ډایاک فعالیتونه پیل کړي دي. د کنفرانس د پای ته رسیدو سره جوخت، نوموړي والیان به خپلو ولایتونو ته ستانه شی تر څو د دولت د رئیس د مرستیال امرونه عملي کړي.

دغه کمپاین یوازې یوه برخه د ډایاک د اجرااتی پلان ده کوم چې د دولت د رئیس جلالتمآب حامد کرزي له خوا د ۱۳۸۵ کال د سلواغه د میاشتي په ۲۸مه نیټه لاسلیك شو.

کله چې ولسوالي د ډایاک توافق ترلاسه کړي، نو پرمختیایي پروژې به په دغه ولسوالیو کې پیل شي. ډایاګ د کاپیسا ولایت د محمود راقي په ولسوالی کې د کانال د پاکولو پروژه پلې کړې ده او د کاپیسا ولایت د دویم کوهستان په ولسوالی کې د وترنرئ د کلینیك د ودانولو لپاره د چمتوالي په ورستي پړاو کې دی. همدارنګه، د تخار ولایت د فرخار په ولسوالی کې د اوبو د برېښنا د کوچنی کارخاني ودانولو ته وروستی چمتوالی نیسي.

**د خبري رسنی د تماس پته**

---


راشد ایثار- د افغانستان دنوي پیل دپروګرام د عامه معلوماتوافسر.
د ګرځنده ټیلفون شمیره: 0799 233 937 - د برېښنا لیك پته: reasar@anbpafg.org

سوما ابراهیمی - د افغانستان دنوي پیل دپروګرام د عامه معلوماتو مرستیاله
د ګرځنده ټیلفون شمیره:577 070072 - د برېښنا لیك پته: sibrahimi@anbpafg.org

www.diag.gov.af - www.undpanbp.org